حفیظ ملیار

۲۰۱۳/۰۷/۱۳

# پارلمان ته کاندید

غوارم کاندید شم پارلمان لپاره
د شخصی ګټو د ارمان لپاره
ورته به لافې د خدمت ووهم
جیب به می ډک کړم دخپل ځان لپاره
په رشوتونو کې کورونه اخلم
د شهرنو او مکرویان لپاره
... د اتفاق پر ځای نفاق جوړوم
د دی زخمی افغانستان لپاره
زه په تبعیض کې خپل بقا وینمه
د ګډوډی او چور میدان لپاره
په ملی ګټو کې ځای کله شته دی
د خود غرض او د شیطان لپاره

زه د مظلومو خلکو اوښکې څه کړم
زما یې څه خیری ګریوان لپاره
دا آبادی ته خو مې ملا ماته ده
وطن به جوړ کړم قبرستان لپاره
هر ا جنبی چې راته دهل غږوی
ورته نڅیږم د قیران لپاره
په لباسی خندا به خلک غولوم
شم به بلبل نطق او بیان لپاره

او به به خړې کړم ماهیان به نیسم
ځان به کړم ټګ د هر انسان لپاره

که له سواد نه بهره مند نه ومه
سکرتر نیسم د پرسان لپاره
په نیکټایې باندی به لاس وچوم
پلو چلو او دسترخوان لپاره

"حفیظ ملیاره" بیا به ځای نلرم
افشا مې نکړې د قرآن لپاره



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ